# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد          بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com          www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

لیکونکی: دافغانستان د آزادی سازمان
۱۶ دسمبر ۲۰۱۳

## د سولی ملی جبهه

په پښتوکي متل دی چي چا په کلي کي نه پریښودی لونګی دملک کره کیښوده دسولی ملی جبهه هم همدغسي کوي نوره دمبارزي لاري چاري تري ورکي شوي دملکانو کاريي پيل کړ دډيالکتيکی قوانينو په رڼاکي که دافغانستان حالات وڅيړل شي نوخبره ډيره روښانه ده چي دقومي شمليز سياست په کي نه ځايږي ځکه چي:
اول : افغانستان دامريکا تراستعمار لاندي دی اوپه دي کي هيڅ شک نشته دی او هغه ځوک چي ددولت په ګادی ناست دي دا د دوی تلي ښتي، کمپرادوران(دلالان) دي، صنعت په دوربين کي نه ليدل کيږي خو اخلاق ټول دسرمايه داري مروج کيږي د دوی مخالفين طالب او حکمتيار هم دفيوډالي مناسباتو نمايندګي کوي نوبناء دډيالکتيکي قوانينو له نظره دفيوډال اوښتمن ترمنځ تضاد اساسي نه دی دګلبدين، طالب، سياف او غربي ډيموکراټ ترمنځ بيلتونونه فرعی دي او په فرعي بيلتونونوکي اصل دادی چي دوی په خپل منځ کي سره يو کيږي اوسوله کوي نودسولي ملي جبهه داسي دی لکه ملاسترې خدای نه راضه دوی يوازي ځانونه مطرح کوي اود مطرح کولو له پاره يي دسولي ملی جبهه رااېستلي اوداساسي مبارزي ښخه ځانونه تيرباسي خو سوال داپيداکيږي چي څه بايد وشي ؟ چي سولي ملی جبهه له پاره مبارزه نه کوي نو څه بايد وکړو ؟
زما له نظره په افغاني ټولنه اوسني سياست کي دري فکتوره دي چي په خلص ډول يي وړاندي کوم دوستان کولی شي چي ډيره تبصره وربادني وکړي اول فکتوردادی چي يو مبارز چي انسانيت له پاره مبارزه کوي اوټولنيز عدالت غواړی هغه بايد په لومړي قدم کي تشکيلات جوړ کړي چي په تخنيک باندي ډير نه غړيږم اودخپلو تشکيلاتو په رڼا کي دهرظالم اومتجاوز په مقابل کي دحالاتو او شرايطو په نظر کي نيولو سره په مشدده اوغير مشدده مبارزه لاس پوري کړي کله چي يو قوت شي بياکړي خولي په سوک سمولی شي کيني دغريب ملا په اذان ځوک روژه هم نه ماتوي اوداسي مرحلي ته بايد ځان ورسوي چي ددشمن په صفوفوکي وردننه شي اوله منځه يوسي چي مشخص تحنيکونه لري اوبيا کولی شي چي غصب شوي حقونه هم لاس ته راوړي که په خوله يي غواړی اوسنی دولت يي هم غواړی نوديته اوداوسني دولت ترمنځ څه توپير شو ؟ زوړ ملا زاړي ترويحي
که دملي يوالي بابوللي وايي نو ملي يووالی ځان له پاره اصول اواساسات لري ملي يووالی په دي مانا نه دی چي خر داس سره يوځای وتړه دپنجشير فهيم دجلال اباد حاجی ظاهر دواړه يومفهوم يوه مانا لري ظالم په هرځای کي ظالم دی مظلوم مظلوم دی ملي يووالی هله کيدای شي چي دظالم ښکي اوباسي او يو ټولنيز عدالت رامنځ ته کړي اوهرهغه ځوک چي دملت په وينو لاسونه سره شوي وي اودعدالت په چوکی کينوي ددی په خاطرچي ملي يوالی رامنځ ته شي دا لويه اشتباه دی بايد ترسره نشي عدالت اوملي يووالی دادی چي خاين بايد خپله سزا ووينې نه دچوکی خوند اومزه

چي دغه دافغانستان حکومت ونکړ دملي یوالي په نوم یي مفسدینو اوخاینانو ته چوکی ورکړي چي ډیر ورباندي نه غړیږم

دویم فکټور دادی چي دولت سره یوځای شي او دامریکا په کومک طالب ورباندي ووهي لکه سپنتا او.....خودغه فکټور غیر علمي ،غیرمنطقي دځان غولول دی نو وهل خو یو ځل پریږده بیا به دمجددي لاسونه هم ښکلوي چي یو ایدیالیستیکي برخورد دی دریم فکټور دادی چي طالب سره یوځای شی امریکا ورباندي ووهه دغه اخرني دوه فکټوره ایډیالستیکي برخورد دی چي ډیر تفصیل ته اړتیا نشته دی

لوستونکو ! یوځای کیدل په هغه صورت کي چي دي تا تشکیلات دومره قوي وي چي بیا طالب هم له منځه یوسي او دسیاست اساسي کرښي خلک وټاکي اوتادخلکو رهبري وکړلی شي که داسي نشي نو دروس په مقابل کي چي شعله جاوید میراث داران بعضی برخونه، افغان ملت او ولسي ملت کوم سیاست وړاندي کړی وو اوپه کوم سرنوشت اخته شول په اوسنیو شرایطو کي به له هغه هم بدتر شي نو بناءً که څوک یو چپي سیاست کوي نو هغوی باید له اول فکټور څخه کار واخلي اوخپلی مبارزي ته ادامه ورکړي که وي چپي اومبارزه دسولي کوي هسي دځان غولول ، مطرح کول اودخپل وخت تیرولو په مانادی ځکه چي کله تا جبهایی سیاست ته وردننه کیږي نو باید له خپله تشکیلات ولري کیني خپل اشخاص دي هم دښکاروړګرځي

دبریالیتو ب په هیله

دآزادی سازمان